شرعی وزنونه

مؤلف

حضرت مولانا محمد شفیع صاحب رحمۃ اللہ علیہ
مفتی اعظم پاکستان

مکتبہ رشیدیہ
سرکی روڈ کوئٹہ

(بسم الله الرحمن الرحيم)

الحمد لله و كفى و سلام على عباده الذين اصطفى

دشريعت ډېرحكمونه د ناپولواوتللوسره تعلق لري كوم چې نبي عليه السلام دعزبو دپيمانواووزنو سره سم ارشادفرمايلي دي مثلاً: صاع ، مد ، اوقيه ، درهم ، دينار ، مثقال او غيره.

په هنداوپاكستان كې دبل ډول وزنواوپيمانورواج دی،ځكه ددې احكامودادا كولولپاره ضروري ده چې دشرعي وزنواوپيمانو اندازه اومقدار دهند اوپاكستان په رواجي وزنواو پيمانو سره وښودل سي ددې لپاره له پخوازمانې څخه علماؤ په مستقلورسالواوپه جلاجلا فتاواؤكې وړده اومختصر بحثونه كړي دي.

دعلماؤپه دې تحقيق كې څه اختلاف هم راغلى دی،مثلاً دهند د جمهوروعلماؤتحقيقاوفتوی دشرعي مشهورنصابونو په اړه داسې ده.

د سپينو زرو نصاب	دوپنځوس تولې شپږ ماشې
د سروزرو نصاب	اوه تولې شپږ ماشې
يوه صاع د اتيا تولې د سېر له حسابه	درې نيم سېره كيږي
نيمه صاع د اتيا تولې د سېر له حسابه	پاؤ كم دوه سېره كيږي

خومولانا عبدالحى لكنوي رحمة الله عليه اودلكنو دځونورو علماؤ تحقيق په دې اړه متفاوت دی اوتفاوت هم څه معمولي نه دی،ځكه

چې د سپينو زرو نصاب د دوی په نېزد شپږ دېرش تولې پنځه نيمې ماشې او د سرو زرو پنځه تولې دوه نيمې ماشې او نيمه صاع (كاسه) تقريباً يو سېر پنځلس تولې د.

نو ښكاره خبره ده چې د دې تفاوت ډېر زيات اثر د مال سره اړوند پر ټولو شرعي حكمونو لوېږي ، په هم دې وجه د عامو مسلمانانو ترمنځ دا سوال له ډېرې مودې څخه وجود لري.

بيا په سنه ۱۳۷۱ هجري كې په خاصه د ديوبند د دارالعلوم په دارالافتاء كې په يوه وخت د دې په اړه ډېر سوالونه جمع شول هم دا سې دروژې په مياشت كې دامعلومات هم ترلاسه سول چې د حيدر آباد د علماؤ يوې ډلې پر دې مسئلې غور او فكر وكړ او د حضرت مولانا الكنوي رحمة الله دليک سره سمه د زكوات او صدقة الفطر (سرسايې) د نصاب د مقدار فيصله خپره كړه د دې په وجه سوالونه نور زيات شول ، ځكه ضرورت پېښ سو چې د فقهاؤ د وينا په رڼاكې د دې شرعي مقدار ټول تحقيق په هندي اوزانو كښې وسي.

احقر د خپل وس او قدرت سره سم د دې ټولو په تحقيق او پلټنه پوره امكاني كوشش وكړ د دې چې كوم نتيجه د احقر ومخ ته راغله هغه مې وليكله د حضرت حكيم الامت په خدمت كښې مې پيش كړه حضرت قدس سره هغه خوښه كړه او د هغه نوم يې (ارجح الاقاويل في اصح الموازين والمكائيل) كيښود والله تعالى المسئول للصواب والسداد واليه مرجع المبدأ والمعاد.

Scanned with CamScanner

دشرعي اوزانومنل سوي اصول

اوزان شرعيه په اوزان هنديه كښې داړولواوحساب لګولو کې چې دکومواصولو څخه کاراخستل کيږي هغه تقريبا دهند دټولو علماؤ په نيز دمنل سوي دي اودعربواوعجمو دټولو متقدمينو اومتاخرينو فقهاؤ پردې اتفاق دی اوزمونږ دفقهې په مشهوره کتابونو لکه مجمع الانهر ،الدرالمختار ،شاميه عالمګيري ،البحرالرائق ،شرح وقايه ، جامع الرموز،کتاب الاموال لابي عبيده اونوروکښې چې نقل سوي دي هغه دادي .

دعربي وزن نوم	په عربي وزن مقدار	دعربي وزن نوم	په عربي وزن مقدار
قيراط	پنځه وريشې	دمد په حساب رطل	نيم مد
درهم	اوياووريشې	داستارپه حساب رطل	شل استاره
مثقال	سل وريشې	ددرهم په حساب استار	شپږنيم درهمه
يوه وريشه	درې وريجې	دمثقال په حساب استار	څلورنيم مثقاله
يوه ورجه	دبارتنګ (خردل) دوې دانې	ددرهم په حساب صاع (کاسه)	يوزرڅلويښت درهمه
بغدادي صاع (کاسه)	۸رطل	دمثقال په حساب	اووه سوه شل مثقاله
ددرهم په حساب رطل	۱۳۰درهمه	دمد په حساب صاع	څلورمده
دمثقال په حساب رطل	۹۰مثقاله	داستارپه حساب صاع	يوسل شپيته استاره

دفقهاؤدويناڅخه څوحوالې لاندې رانقل کؤ

(١) فی فتح القدیرزکوات المال قال ابوعبیده فی الاموال ولم یزل المثقال فی آباد الدهر محدود الایزید ولاینقص وکلام السجاوندی فی قسمة الترکات خلافه قال الدینار بنسجة اهل الحجاز عشرون قیراطاوالقیراط خمس شعیرات فاالدینار عندهم مائة شعیرة وعنداهل سمرقند ستة وتسعون شعیرة (الی قوله)فلاحاجةالی الاشتغال بتقدیرذالک وهوتعریف الدینار علی عرف سمرقندوتعریف دیناراهل الحجازهوالمقصود اذالحکم قدخرج من هناک ویوضح ذالک قوله ﷺالمکیال مکیال اهل المدینة والوزن وزن مکة لفظ النسائي عن احمد بن سلیمان ووثقه (فتح القدیر ص ٥٢٣ ج١)

په فتح القدیر کښې دي چې ابوعبیده په کتاب الاموال کښې فرمايلي دي دينار له هميشه څخه محدود اومتعين راروان دی په دې کښې هيڅکله کموالی اوزياتوب نه دی راغلی اودترکاتودقسمة په بحث کښې دسجاوندي کلام ددې په خلاف دی ځکه چې هغه فرمايلي دي چې دحجاز يانو په وزن دينار شل قيراطه اوقيراط پنځه وربشې دی ځکه ددوی په نزد يودينار سل وربشې دی اودسمرقنديانو په نيز د ٩٢ وربشې دی بيافرمايي خودسمرقند يانو دوزن په تحقيق کښې لويدل فضول دي ځکه چې مقصود دلته حجازي وزن دی ځکه چې دزکوات حکم دهم هغه ځای څخه راوتلی دی اودنبي عليه السلام ارشاددی چې پيمانه دمدينې طيبې اووزن دمکې معتبردی نسائي داحديث داحمد بن سليمان په روايت رانقل کړی دی اوددې توثيق يې کړی دی.

٢ في الدر المختار الدينار عشرون قيراطا والدرهم اربعة عشر قيراطا والقيراط خمس شعيرات فيكون الدرهم الشرعى سبعين شعيرة والمثقال مائة شعيرة اه - قال الشامي تحته شعيرة معتدلة لم تقشر وقطع من طرفيها مادق وطال.

(الدر المختار مع الشامي ج٢ - ص ٢٩)ومثله فى البحر الرائق ج ٢ - ص ٢٢٧)ومثله فى شرح الوقايه ومجمع الانهر وجامع الرموز .

ژباړه: په درمختار کې دي چې دينار دشلو قيراطو اودرهم دڅوارلسو قيراطو دی اوقيراط د پنځو وربشو نوشرعي درهم داوياوربشو اومثقال دسلو وربشو سو .علامه شامي رحمة الله عليه ددې قول په شرح کښې فرمايلی دي چې داوربشې درميانه په کاردي چې خور(پوستکی) يې نو ي اړولی اوددواړو اړخوڅخه يې چې کومه نري لکۍ وي هغه به پرې کړل سوې وي همدغه مضمون په بحرالرائق شرح الوقايه ، مجمع الانهر ، اوپه جامع الرموز کښې بيان سوی دی.

٣ - وفى الدر المختار والصاع المعتبر مايسع الفا واربعين درهما من ماش اوعدس اه - قال الشامي اعلم ان الصاع اربعة امداد والمد رطلان والرطل نصف من والمن بالدرهم مئتان وستون درهما وبالاستار اربعون والاستار بكسر الهمزة بالدرهم ستة ونصف وبالمثاقيل اربعة ونصف كذا فى درر البحار فالمد والمن سواء كل منهما ربع صاع رطلان بالعراقي والرطل مائة وثلاثون درهما واختلف فى الصاع فقال الطرفان ثمانية ارطال بالعراقي وقال الثاني خمسة ارطال وثلث وقيل لاخلاف (الى قوله) وهذا هو الاشبه لان محمدا لم

يذكر خلاف ابي يوسف ولو كان لذكره لانه اعرف بمذهبه)شاميه ۲:ج ص: ۷۲).

ژباړه : اوپه درمختارکښې دي کومه صاع (کاسه) چې په شرعي احکامو کښې معتبره ده هغه هغه پيمانه ده په کومه کې چې ديوزرو ځلوينښت درهمه په برابر ماش يادمسوردال ځائږي علامه شامی ددې قول په شرح کښې ليکلي دي چې صاع دڅلورو مدو اومد دوه رطله اورطل نيم مَن (په حجازي اصطلاح) اويومن ددرهم په حساب دوه سوه شپيته درهمه دی اوداستارپه حساب ۴۰ استاره اواستاردهمزه په زير سره ددرهم په حساب د شپږنيمو درهمو برابر اودمثقال په حساب دڅلورنيمو مثقالو برابردی كذافی دررالبحارنومداومن برابردي هريو په دوی کښې دصاع دڅلورمې حصې په برابر دی کومه چې دعراق ددوو رطلوپه برابرده اورطل ديوسل ديرش درهمو په برابردی اودصاع په وزن کښې اختلاف دی امام ابويوسف رحمه الله فرمايی چې پنځه رطله اودرطل دريمه يوه صاع وي اوبعض حضراتوداهم فرمايلي دي چې په حنفي ائمه ؤکې دصاع په اړه هيڅ اختلاف نسته بلکه په اتفاق سره داتو رطلوصاع وي اوهمدغه خبره (داختلاف نه کېدل) زياته نژدې ده ځکه چې امام محمدرحمه الله دامام ابويوسف رحمه الله هيڅ اختلاف ندی نقل کړی که اختلاف وای نوهغه به خامخا بيان کړی وای ځکه چې دی دهغه په مذهب ښه خبردي.

۴ - وفی شرح الوقاية ونصف صاع من العراقی فهو منوان علی ان المن اربعون استارا والاستار اربعة مثاقیل ونصف مثقال فالمن مائة وثمانون مثقالا اه.

ژباړه :او په شرح الوقايه کښې دي چې عراقي نيمه صاع دوه منه ده په دې ډول چې يومن د۴۰ استارو او استار څلور نيم مثقاله دی نو يومن يوسل اتيا مثقاله سو.

5-قال محمد بن صالح المعروف بقاضی زاده ساکن المدينة فی نتائج النظر حاشية الدرر والشعيرة ثلاث حباة من حباة الارز کما فی المتانة وستة خرادل (مصباح).

ژباړه : علامه محمد بن ساکن مدينة په نتائج النظر حاشيه درر کښې فرمايلي دي چې يوه وربشه د دريو ورجو برابره وي او د ا دشپږو بار تنګو دانو برابروي.

۶-او په غاية البيان کښې راغلي دي الدينار عشرون قيراط کل قيراط اثنا عشر ارزة والارز خردلتان حديثتان من الخردل البري مصباح

ژباړه : دينار دشلو قيراطو او قيراط د دوولسو دورجو دانو او ورجه د دوو بارتنګو دانو برابره وي بارتنګ نوی دبيابان په کاردی.

دفقهاؤ رحمهم الله لوړې ويناوې دهندوستان دجمهور وعلماؤ او د حضرت مولانا عبدالحی لکنوي رحمه الله په نيز د اتفاقي او منل سوې دي او پُرهمدې ويناؤ تولو د خپل خپل حساب بنياد ايښی دی .

خواختلاف له دې ځایه پیداسو چې مولاناعبدالحی رحمه الله او یاوربشې کوم مقدار چې ددرهم دی دایې دوې ماشې یوه نیمه رتی بللې ده.

اودهند جمهورو علماؤدری ماشې یوه رتی اوپنځمه حصه درتی بللې ده همدا ډول مثقال دمولانا لکنوي په تحقیق ددریوماشویوې رتی وي اودجمهوروپه تحقیق دڅلورنیمو ماشووي بیاخوماٰلادصاع وزن هم په درهم اومثقال وي نودهمدې له حسابه دصاع په وزن کښې هم تفاوت راغلی اوښکاره خبره ده چې کله دیوه درهم په وزن کښې تریوه ماشه هم زیات فرق راغلی نوپه دووسودرهمو(دزکوات نصاب)کښې به څومره زیات فرق راسي ، همداسې په یوه مثقال دیوه نیمې ماشې فرق راغلی نوپه شلو مثقالو کښې ددېرشو ماشوفرق راتلل لازمي نتیجه ده همداسې دصاع په فرق ځان پوه کړه اوس زمونږ لپاره دفکرور یوداشی پاته شو چې داویاوربشو اوسلووربشو وزن دماشې په حساب څومره دی چې ددرهم اومثقال صحیح وزن معلوم شي بیاددې څخه دسروزرواوسپینوزرونصاب صحیح اودصدقة الفطر(سرساې)صحي اندازه معلومول اسانه سي.

احقر اویاوربشې جلااوسل وربشې جلا په ډیر احتیاط وزن کړې چې دفقهاؤدوینا سره سم وربشې هم درمیانه وې دکومو بېخ چې پرې وو خو خورونه یې نه وواړول سوي بیامې پخپله هم څو واره وزن کړې اوپه څوزرگرانو مې وزن کړې اول مې داوسني وخت رواجي ماشې سره وزن کړې نواویاوربشې دری ماشې پنځه رتی سوې اوسل وربشې پنځه ماشې دوې رتی سوې خوداوسني وخت رواجي ماشه

توله داصلي تولې ماشې څخه څه قدر کمه ده ځکه چې په اوسني وخت
کې په بازاز کښې دانګریزي روپې سکه توله بللې سوې ده کومه چې
حقیقتاد یوولس نیموماشوده اوله اصلي تولې څخه «۴» رتی کمه ده
په همدې حساب ماشه ۳/۱ یوپه دري کمه سوه پردریو ماشو یوه رتی
اوپه پنځوماشو پاوکم دوې رتی کمه سوه نوګویا ددې وزن په حسا ب
اویاوربشې دری ماشې څلوررتی سوې (تولې تقریبا اته ویشت رتی
سوې اوسل وربشې تقریبا څلوېښت ۴۰ رتی یاپنځه ماشې سوې
بیامې دنوراحتیاط لپاره اراده وکړه چې رتیانې سره وزن کړم نو
دبازار څخه مې سرې ګنګچیانې دکوموچې یوه دانه یوه رتی وي جمع
کړې اووزن مې کړې خوداګنګچیانوډیرتفاوت درلود له بعضې څخه
داویاوربشووزن اته ویشت رتی اودسلووربشو وزن یوڅلویښت رتی
سو،اوله بعضې څخه داویاوربشووزن اووه ویشت رتی سوله
بعضوڅخه شپږ ویشت اوله بعضوڅخه پنځه ویشت رتی سوهمداسې
دسلووربشووزن هم په ګنګچیانوڅلویښت رتی له بعضو څخه نه
دیرش له بعضوڅخه اته دیرش او له بعضو څخه شپږدیرش رتی سوې
دوزن د دې فرق له وجهې غوراوفکر وسونومعلومه سوه چې په دې
کښې دزیاتره ګنګچیانوذفرق وجه ده ځکه چې ګنګچیانې چې څومره
دزرګرانوڅخه جمع کړل سوې په هغوی کښې دومره فرق وو چې په
لیدوکښې هم غټې اوکوچنی معلومیدې خوزمونږ لپاره دصحیح
وزن دمعلوملو لپاره لکه څنګه چې ددرمیانه وربشو اخیستل
پکارؤ همدغسې ددرمیانه ګنګچیانواخیستلو ضرورت ؤ، ځکه
دوس سره سم چې دکومودرمیانه ګنګچیانوپلټنه اوتحقیق کیدای

سو هغه مې جمع کړې دکوموترمنځ چې په ليدوکښې هم فرق نه معلوميدی په هغه مې بيانوی وزن وکړی.
نواويااوربشې دپنځه ويشت رتی اوسل اوربشې دپوره شپږ ديرش رتی برابرې سوې بيامې په دې وزن کښې هم په جلاجلاطريقووتلل نوهمدغه وزن راتلی له کوم ځخه چې معلومه سوه چې درهم (دکوم شرعي مقدارچې اويااوربشې دی) ددريو ماشو يوې رتی اومثقال (دکوم مقدار چې سل اوربشې دی) پوره دځلور نيموماشو دی اوداهم هغه وزن دی کوم چې دجمهورعلماؤ اوددهلي مشرانوليکلی دی يواځې ددرهم په وزن کښې ديوې رتی دپنځمې حصې کموالی زمونږ په حساب کښې ؤ نوښکاره خبره ده چې ددې کموالي احساس نه سي کيدلای ددې تولو پلټنې اوتحقيق اوپه بيلابيلاقسمونوکښې دګنګچيانو اوماشو او نورو باندې په وار وار وزن کولوځخه داخبره بالکل ښکاره اويقيني سوه چې ددرهم وزن دوې ماشې يوه نيمه رتی اودمثقال درې ماشې يوه رتی کوم چې دلکنودعلماؤ ليک دی په هيڅ ډول نه اوپه هيڅ حساب نه صحيح کيږي ، ځکه چې ددوی په تحقيق درهم اوولس نيمې رتی اومثقال پنځه ويشت (۲۵) رتی دی اوپه دې تولو تحقيق اوپه پلټنه اوپه واروارووزن کښې داويااوربشو(درهم) وزن ترپنځه ويشت رتی اودسلواوربشو(مثقال) وزن ترشپږديرشورتی ځخه کم په هيڅ ډول نه سي راوتلای اوحيرانتيا پردې ده چې دمولاناعبدالحی صاحب رنګه محقق اوماهر عالم په حساب کښې دومره لوی فرق ځنګه راغلی خوپه فکر اوغور سره داخبره په خيال کښې راځي چې شاهد ده به يواځې

دڅلوروورېشواويوې رتی وزن سره کړی وي دنامعلوموالي له وجهې به په دې کښې فرق نه وي محسوس سوی بیابه یې پرهغه داویااوسلواورېشوحساب لګولی وي ددرهم اومثقال وزن به یې قائم کړی وي ده به اویا۷۰اوسل ورېشې تولې نه وي وزن کړې کنه داسې غلطي هیڅکه نه راتله ځکه مې ددې خیال دامتحان لپاره دڅلورو ورېشواویوې رتی وزن وکړ نوددې خیال پوره تصدیق وسو چې په ښکاره لیدوکښې بالکل برابر معلوم سو،بیامې ددې دنورتقویت لپاره یوائې درې ورېشې اویوه رتی وزن کړې نوهغه هم همداسې په ښکاره لیدوکښې برابرمحسوسېدل خوپه دواړه وزنوکښې دومره پټ فرق وو چې دهغه احساس کول ګران وو دکوم څخه چې ثابته سوه چې په حقیقت کښې دیوې رتی وزن نه پوره څلورورېشې دی اونه پوره درې ورېشې بلکه تردرې یوڅه کم دی اوداکموالی یوائې دیوې رتی په تللونه سوښکاره.

کوموکسانوچې دیوې رتی مقدار څلورورېشې یابعضو(په تذکرة الرشید کښې له حضرت ګنګوهي رحمه الله څخه همدغه نقل سوی دی) درې ورېشې لیکلی دی داخویاتقریبی دی اویاپه دې وجه دی چې هغه یوازې دیوې رتی وزن لیدلی دی اوپه لږنظرکښې لږفرق نه محسوسیږي لنډه داچې تردې تحقیق اوتدقیق اوکوښښ وروسته داخویقیني سوه چې ددرهم وزن دوې ماشې یوه نیمه رتی اودمثقال وزن درې ماشې یوه رتی هیڅکله نه سي کېدای.

اوس صرف دومره خبره پاته سوه چې احقر چې په کومو جلاجلا ګنګچيانو يابازاري ماشووزن وکړ اوپه هرقسم کې څه ناڅه فرق راغلی په دې کښې وکوم وزن ته ترجيح ورکول سي.
نولومړی خوداحقردخپلې پلټنې په اعتبار هم هغه وزن راجح اوصحيح دی کوم چې دهند دجمهورو علماؤ دتحقيق سره بالکل سم دی يعني اوياوربشې دپنځه ويشت رتی اوسل وربشې دشپږ ديرشو رتی برابر دي ځکه چې داوزن په ميانه وربشواوپه ميانه ګنګچنيانوسوی دی دوهم داچې دجمهوروعلماؤدتحقيق سره سم کيدل ددې وزن دترجيح لپاره کفايت کوي ځکه چې دې مشرانوعلماؤله اوومې صدی هجري څخه تردوولسمې ديارلسمې هجري پورې په بيلابيلوزمانواوپه جلاجلاوطنوکښې خپل خپل تحقيق ضبط کړي دي لکه چې ډير ژربه ددې تفصيل مخ ته راسي اودټولو تحقيقونه مطابق اوموافق دي ،عادة داخبره ناممکنه ده چې داټول دې پريوه غلطي جمع سي.

دهندوستان دپخوانيوعلماؤتحقيقات

مولاناابوالفتح رکن الدين بن حسام دناګوري مفتي کوم چې دقاضي القضاة شيخ حمادالدين احمدرحمه الله له طرفه دګجرات په ولايت کښې داسلامي حکومت له طرفه مفتي ټاکل سوی وو اوپه همدغه زمانه کښې يې په ډير تحقيق سره فتاوی حماديه تصنيف کړې وه په دې کښې يې دهندوستا ن دلويوعلماؤتحقيقونه دشرعي وزنونوپه باره کښې نقل کړي دي او په دې کښې يې دکنز دشرحې څخه دمولانا معين الدين دحاشې په حواله رانقل کړي دي خو دامعلومه نه سوه چې

دکنزداکومه شرحه اود کومې زمانې تصنیف دی خودومره معلومه ده چې دابزرګ دهندوستان دپخوانیو علماؤ څخه دی اوپه وزن بلادنا کښې چې دده په لاندنې عبارت کښې راغلی ددې څخه مراد دهلی اودهغه شاه اوخوادي لکه چې ددې عبارت څخه مخکې په همدغه کتاب کې درهم بلدنااعني حضرت دهلی ذکرسوی دی.

والقیراط حبة واربعة اخماس حبة فیکون وزن الدرهم خمسة وعشرین حبة وخمس حبة وکل تولجة ثلاثة دراهم وعشرین حبة وخمس حبة لان تولجة ستة وتسعون حبة لان کل تولجة فی اصطلاحنا اثناعشرماهجة وکل ماهجة ثمانیة حبة فعلی هذایکون نصاب الفضة بوزن بلادنا اثنین وخمسین تولجة ونصف تولجة فالواجب تولجة وربع تولجة وست حباة ونصاب الذهب بوزن بلادنا سبع تولجات ونصف تولجة والواجب ثمن تولجة ونصف ثمن تولجة وذالک بالماهجة ماهجتان وربع ماهجة وهذا هوالتحقیق فی هذالباب (فتاوی حمادیه ص ج۱ ص۴۳).

اوقیراط یوه رتی اودیوې رتی دپنځو حصوڅخه څلورحصې دی ځکه ددرهم وزن پنځه ویشت رتی اودرتی پنځمه حصه سوه اوهره توله دری درهمه شل رتی اودرتی دوې پنځمې سوې ځکه چې نن صبا توله دشپږ نوي[۹۲] رتی ده ځکه چې توله زمونږ په اصطلاح کښې ددولسو ماشوده اوهره ماشه داتورتی نوپه همدې وجه دسپینوزرونصاب زمونږ دوطنودوزن په اعتبار دوپنځوس نیمې تولې سو اوپه دې کښې دواجب زکوة مقدار یوه توله دري ماشې شپږ رتی سو ، اودسروزرونصاب زمونږ دوطن په اعتبار اووه نیمې تولې

سو او په دې کښې واجب مقدار سوا دوې ماشې سو په دې اړه همدغه تحقیق دی.

دمولانارکن الدین لوړ ذکر سوی تحقیق بعینه هغه دی کوم چې ددهلي دعلماؤ اوهندوستا ن دجمهورعلماؤ بیان کړی دی همداسې په همدا فتاوی حمادیه کښې یوه کیسه د(٧٩٤) هج شیخ بهاؤالدین ابراهیم بن عبدالله تاجرملتاني رانقل کړې ده چاچې په هندوستاني وزنونو کښې ددرهم ، دینار، صاع ، مد ، پوره تحقیق کړی دی اوله مکې معظمې څخه دشرعي درهم ، دینار، مد اوصاع معتبر اوسند درلودونکي پیمانې هندوستان ته راوړې ددهلي په دارالضرب کښې دوی وزن کړل اومحفوظ یې کړل.

د هغه عبارت بعینه دا دي .

من شرح الهداية وحكى ان ابراهيم بن عبدالله التاجر الملتاني لما دخل مكة سنة اربع و تسعين وست مائة بالغ فی تحقيق الدرهم بوزن سبعة والمثقال والصاع والمد واتى بدرهم مكة ومثقالهاوصاعهاومدها ووزنها وحرزها بدارالضرب فی حضرة دهلي اجلهاالله تعالى فصار الدرهم الشرعي ثلث ماهجة واربع شعيرات وربع شعيروالمثقال الشرعى درهما من دراهم بلدنا وخمس درهم ونصف شعير وعشرها والمدثلثة اساتيروثلث استارباستاربلدنا والصاع ثلثة عشراستاراوثلث ستارباستاربلدنا وهذالايصلح للاعتماد والتعويل عليه وان اعول بعض علماء عصرنا لانه اشتبه صاع عمرؓ اى زمن الحجاج وقدقرب ذالک الزمان من عهد النبیﷺ فکیف یعتمد علی

صاع أتى به فى هذالعصر وقد تطاول الزمان وتغير المكائيل والصيعان . (حماديه ص ج ١ص: ٤٣)

دهدايې په شرح کې دي چې ابراهيم بن عبدالله تاجر ملتاني چې کله په(٧٩٤)سنه کې مکې معظمې ته حاضر سو نوداوو له حسابه ددرهم (کوم چې په ټولو شرعي احکامو کې معتبردی) ،مثقال ،صاع اودمد په تحقيق کښې ډيرکوښښ وکړ اوله مکې معظمې څخه يويو درهم ، مثقال،صاع،اومد ،راوړل بيا يې دهغوی وزن وکړ اوددهلي په دارالضرب کې يې محفوظ کړل نوشرعي درهم ددريو ماشو اوپاو باندې څلورورېشو په برابر اوشرعي مثقال ددهلي په رواجي درهم يودرهم اوپنځمه حصه ددرهم اونيمه وربشه اولسمه حصه دوربشې سوه اومد دری استاره اوداستار يوه دريمه زمونږ دښار (دهلي) داستار په حساب اوصاع ديارلس استاره اويوه دريمه داستار زمونږ دښار په اعتبار ، خو دصاع اومد داوزن داعتماد قابل نه دی که څه هم بعضې علماؤ پردې اعتماد کړی دی داعتمادنه کولو وجه داده چې دحجاج په زمانه کې دحضرت عمرؓ په صاع کښې اشتباه راغلي وه حال داچې دا زمانه دنبی عليه السلام وزمانې ته ډيره زياته نژدې وه نونن پردې صاع څنګه اعتماد کيدلای سي کومه چې تردوومره اوږده زمانه وروسته له هغه ځايه راوړل سوه په دې موده کې معلومه نه ده چې دهغه ځاي په صاع اوکيل کښې به څنګه څنګه بدلون راغلی وي (حماديه ج ص: ٤٣.

په دې کښې دحماديه دمصنف داوينا خوصحيح ده چې پردې وزنونو اعتماد خو نه سي کيدای ځکه چې دنبی عليه السلام له زمانې څخه

دليرې والي په وجه دبدلون امکانات ډيردي خودلته يواځې همدغه بنيادنه دی بلکه دمخکې فقهاؤشهادتونه وجودلري ځکه که دتائيدپه درجه کښې که هم واخستل سي نو هيڅ اعتراض نه سي کيدای.

دشيخ ابراهيم تاجرملتاني تحقيق کوم چې په اوومه هجري صدی کې ډير په اهتمام سره سوی دی داهم ددرهم اومثقال دوزن په باره کښې بعينه هغه تحقيق دی کوم چې ددهلي دعلماؤ اودهند دجمهورو علماؤ دی ځکه چې په دې کښې ددرهم وزن دری ماشې اوپاؤباندې څلور وربشې بيان کړی دی اوجمهورودري ماشې يوه رتی اودرتی پنځمه ليکلې ده نو ۱/۴۴ وربشو يوه رتی اودرتی پنځمه حصه کيدل ښکاره دي همداسې دمثقال وزن ددهلي يوپوره درهم اوددرهم پنځمه حصه اويونيم اويوه لسمه دوربشې ده اوددهلي درهم په هغه وخت دڅلورو ماشو وو لکه چې په فتاوی حماديه کښې دذکر سوي عبارت څخه مخکې ددې ذکر په لاندې الفاظو وجودلري ودرهم بلدنا اعنی حضرة دهلي اربعة وستون شعيرا لانه اربع ماهجة وکل ماهجة ستة عشر شعيرا (ص ۴۲) اوزمونږ دښار يعني دهلي درهم دڅلورشپتووربشو دي ځکه چې درهم دڅلورو ماشو دي اوهره ماشه دشپاړس وربشو .

له دې څخه معلومه سوه چې دمثقال وزن دماشې رتی په حساب څلور ماشې اوشپږ رتی تقريباکېږي په دې کې ددهلی دمتاخرينو علماؤ له تحقيق څخه دانورهم زيات ليرې دي اودوخت بيهقی حضرة قاضي ثناء الله صاحب پانی پتي قدس سره چې وفات يې په ۱۲۲۵ هج کې سوی دی اوحضرت شاه صاحب وده ته دوخت دبيهقي خطاب ورکړی دی اوپه خپله زمانه کې دحکومت له طرفه قاضی هم پاته سوی دی

دده په کتاب مالابدمنه کښې راغلي دي «نصاب زربست مثقال است که هفت ونیم توله باشد ونصاب سیم دوصددرهم است که پنجاه وشش روپیه سکه دهلي وزن آن مي شود (مالابدمنه ص۹۱)

او حضرت نواب قطب الدین صاحب دهلی دمشکوة شارح په ۱۲۵۴هج کښې په خپل کتاب مظاهر حق کې لیکلي دي: درهم دری ماشې یوه رتی او پنځمه حصه درتی وي نو په دوه سوه درهم کې سپین زر شپږ سوه دیرش ماشې وي او په دې کې دزکوات پنځه درهمه دي او په پنځه درهمو کې سپین زر پنځلس ماشې شپږ رتی وي نو که په روپی کې دوولس دوولس ماشې ښي نودشپږ سوو دیرشو ماشو دوپنځوس نیمې روپی سوې او په دې کې دوولس ماشې یوه روپی او پنځه آنې دزکوات سوې او که په روپی کې یولس نیمې ماشې سي لکه په لکنواونوروکې نو په دې کې څلورپنځوس روپي دولس آنې شپږپایان او شپږجزء ددرویشت پائی څخه سوې په دې کې زکوات یوه روپی یولس نیمې ماشې او پنځه آنې لس پایان او دپائی درویشت جزء سو په لاندې تفصیل سره.

ددرهم شمار	زکوات	دسپینوزرو وزن	زکوات	ددولس ماشوسکه	زکوت
۲۰۰درهمه	۵ درهمه	«۲۳۰» ماشې	۱۵ماشې ۲ رتی	۱۸/۵۲	۵/

للعه۲/۱-۱۱ سکه۴ د ۲۱۲، ۲۳۲ زکوات ۵/۱۰ / ۲۳ / ۳۲

اونصاب دد ي (سروزروشل مثقاله ددې ځاى په حساب اووه نيمې تولې كيږي (مظاهرحق ج ۲ ص: ۱۰۸)

اودشيخ محمد قائم سندهي په رساله مصباح منير كې دشيخ عيسى سندهى برهان پوري شطاري له رسالې مفتاح الصلاة څخه نقل كړى دى مقدارصدقه فطرنصف صاع است كه عبارت ازچهار رطل باشد وآن دوسيرشاه جهانى ميشود چون ازګندم يااردبا ساتو باشد ويک صاع بدهد اګر ازخرما ياجو باشدووجوب آن برصاحب نصاب است يعني هركه پنجاه ودونيم توله نقره يابهائى ان سوائى مسكن بودن وپارچه پوشيدن داشته باشد انتهي همداسې علامه هداد دهدايې په حاشيه كنبې دكنز دشرحې په حواله رانقل كړي دي.

لان التولجة فى اصطلاحنا اثنا عشرماهجة وكل ماهجة ثمان حبات فعلى هذا يكون نصاب الفضة بوزن بلادنا اثنين وخمسين تولجة وربع تولجة وست حبات ونصاب الذهب بوزن بلادنا سبع تولجات ونصف تولجة هذا هو التحقيق فى هذا الباب .

ژباړه : ځكه چې توله زمونږ په اصطلاح كې ددوولس ماشو اوماشه داتورتى ده په همدې وجه دسپين زرونصاب، زمونږ په وطنونو(هندوستان) اونوروكې پاؤباندې دوپنځوس تولې شپږ رتى ده اودسروزرونصاب زمونږ په ښارونو كې اووه نيمې تولې دى ، په دې اړه په تحقيق سره همداسې ثابت دى.

اوپه مصباح منيركې همدغه تحقيق دمولانا معين الدين عمرانى دكنز دحاشې څخه رانقل كړى دى همداسې دشرح صراط مستقيم فصل زكوات څخه رانقل كړې دي درهم مبلغ آن بحساب توله پنجاه ودوتوله

باشد وبست مثقال زر بوزن این دیار هفت ونیم تولجه بود انتهی اقول الصواب ان یقول فی نصابا لفضة پنجاه ودونیم تولجه باشد اه.

همداسي په مصباح منیر فصل سادس کې دي چې زمونږ په ملک کې چې دکافر انو څخه کوم درهم دجزیې په توګه اخیستل کیدل اوپرهغوشرعي درهم لیکلي وو مونږ دهغه وزن وکړ نودری ماشې اواتمه حصه دماشې اوپنځمه حصه درتی وه دکوم څخه چې ددې قول تائید وسو چې مثقال دځلورنیمو ماشووي.

دهندوستان دطبیبانو تحقیق

اشرف الحکماء محترم حکیم محمد شریف خان دهلوي کوم چې ددیارلسمې صدي په اول کې دهندوستان په نامتوطبیبانو کښې شمیر ل سوي وو دده دکتاب علاج الامراض فارسي په آخرکښې دوزنونو پربحث یوجلافصل سته چې دهغه په آخرکښې ده لیکلي.

اوزاني کې درین بلاد متعارف است بدین طریق است که ازچهار خردله یک برنج اعتبار مي کند وازچهار برنج یک جو ازدوجو یک رتی وازهشت رتی یک ماشه واز سه ونیم ماشه یک درهم وازچهار ونیم ماشه یک مثقال واز دوازده ماشه یک توله وازچهار ده ماشه یک دام عالمګیري واز بست ویک ماشه یک دام پخته وازسې دام پخته یک سیراکبری وازچهل دام پخته یک سیر شاهجهانی وازچهل وچهاردام پخته یک سیر عالمګیري وازچهل وهشت دام پخته یک سیر فرخ شاهی که بالفعل مروج است» والله اعلم بالصواب

(علاج الامراض فارسي ص۳۷۲)

په دې تحقيق کښې هم ددرهم اومثقال هم هغه وزن دی کوم چې دهندوستان دپخواني علماؤ په تحقيق کې دي که څه هم درتی وزن دوې وربشې ښودل سوی دی خوداامکان سته چې په دغه وخت کې وربشې غټې وې يادتحقيق کونکوپه مخ کښې غټې راغلي وي ماسواددې څخه دومره خوپه اوله درجه معلومه سوه چې يوه رتی دڅلورو وربشونه ده.

فائده:په دې تحقيق کې دهندوستان دسير جلا جلا وزنونه هم په ضبط کې راغلل کوم چې دتولې په حساب په لاندې ډول دي ددې سره داوسني وخت سير هم څه ليکلی سوی دی.

اکبري سير	شاهجهانيسير	عالمګيري سير	فرخ شاهی سير	انګريزي سير
۵۲دوپنځوس نيمې تولې	(۷۰)تولې	(۷۷) تولې	(۸۴) تولې	(۸۰)تولې

په مخزن کې ددرهم اومثقال وزن ددې څخه څه متفاوت ليکلی دی خوددې تفاوت بناغالبا پردې ده چې ددهلي اوبنګال توله متفاوت ده ددهلي دوولس ماشې اودبنګال دلسوبرابره ده لکه چې پخپله په مخزن کښې ددې وينا وجود لري دتولې دوزن دتفاوت له وجهې په ماشه کې ددې له تفاوت څخه په درهم اومثقال کې فرق راځي.

داهل لغت تحقيق

هفت قلزم دکوم مصنف چې دهندوستان دلغت دمشهورو علماؤ څخه دی هغه هم ددرهم وزن دری ماشې اوڅلوروربشې ليکلی دی په غياث الغات کښې ددرهم وزن دري ماشې اونيمه ماشه ليکلي دی

اودمثقال په اړه يې ليکلي دي «مثقال بالکسر نام وزنی است که چهار ونيم ماشه باشد وقرابادين محمدشريف خان شاهجهان آبادی اگرچې درين اختلاف بسيار کرده اند مگر اقوی همی است.

داتحقيق خودهندوستان دلغت دعلماؤ دی اوامام دلغت محمد بن يوسف کاتب خوارزمی متوفي ۳۸۷ هج په خپل کتاب مفاتيح العلوم کښې دعربو دوزنونو اوپيمانو مقدارونه بيان کړي دي هغه هم دلته دعلماؤ دفايدې لپاره رانقل کوو وهوهذا.

مکائيل العرب واوزانها

القلة اناء للعرب قال اصحاب الحديث القلتان خمس قرب کبار الرطل نصف من المن وزن مائتين وسبعة وخمسين درهما وسبع درهم وبالمثاقيل مائة وثمانون مثقالا وبالاواقي اربع وعشرون اوقية المد رطل وثلث الصاع اربعة امداد عنداهل المدينة وثمانية ارطال عنداهل الکوفة القسط نصف صاع الفرق ثلثة اصوع لوسق ستون صاعا قال الخليل الوسق هوحمل البعير فاماالوقر فحمل البغل اوالحمار المثقال زنة درهم وثلثة اسباع درهم الاوقية علی وزن اثفية وجمعهااواق زنة عشر ة دراهم وخمسة اسباع درهم والاوقية فی الدهن عشرة دراهم الاستار ربع عشرمنا والکر بالعراق بالکوفة وبغداد ستون قفيزا وکل قفيز ثمانية مکاکيک وکل مکوک ثلاث کيالج والکيلجة وزن ستمائة درهم وبواسط والبصرة مائة وعشرون قفيزا وکل قفيزاربعة مکاکيک وکل مکوک خمسة عشر رطلا وکل رطل مائة وثمانية وعشرون درهما انتهی.

ددې ټول بحث او تحقيق لنډيز داوو چې ددرهم اومثقال صحيح وزن دتولې او ماشې څخه کوم دی ؟ تردې وروسته واصل مقصد ته کتل په کار دي چې دسپين زرو او سرو زرو نصاب کوم يو شو اودصدقة الفطر (سرساې)څه مقدارشو دکوم تفصيل چې داسې دی .

دسپينوزرواوسروزروصحيح نصاب

کله چې دااتفاقي خبره ده چې دسپينوزرونصاب دوه سوه درهمه اوذکرسوي تحقيق څخه ثابته سوه چې ديودرهم وزن دری ماشې يوه رتی اوديوې رتی پنځمه برخه ده نوپه حساب لګولوسره ښکاره سوه چې دسپين زرونصاب دوپنځوس تولې شپږ ماشې دی اوکله چې زمونږ په زمانه کې رواجی روپی يولس نيمې ماشې ده نودروپي څخه څلورپنځوس روپی دوولس آنې شپږ صحيح شپږ بټه درويشت پايان (شپږپايان اوديوه پائی شپږ درويشتمی برخې)دزکوات نصاب سو همداسې داهم منل سوې ده چې دسروزروشرعي نصاب شل مثقاله دی اوذکرسوي تحقيق څخه ثابته سوه چې دمثقال وزن څلور نيمې ماشې دی نودسروزرو حساب دتولې له حسابه اووه نيمې تولې سولکه چې ددیارلسمې صدۍ ددهلی بزرګانوليکلی دی اودشيخ بهاؤالدين تاجرملتاني له تحقيق سره سم تقريبا څلويښت رتی يعني پنځه ماشې نور ې زياتيږي يعني اووه تولې يوولس ماشې سره زر دزکوات نصاب سو نواحتياط په همدې کښې دی چې اووه نيمې تولې نصاب وبلل سي اوددې له حسابه زکوات ورکول سي اوڅوک چې داووه نيموتولو مالک سي هغه دې زکوات مصرف ونه بلل سي.

فائده - دشرعي درهم چې کوم وزن لوړ بیان سوپه ټوله حکمونواوشرعي معاملاتوکښې چې کوم ځای درهم بیان سي همدغه شرعي درهم به مرادوي ځکه دښځې دمهر لږترلږه اندازه کومه چې داحنافوپه نیزد لس درهمه ده دوې تولې اووه نیمې ماشې سپین زرسو اودفاطمې مهر دکوم مقدار چې پنځه سوه درهمه نقل سوی دی کمافی عامة روایات الحدیث ددې مقدار په موجوده روپې سره یوسل یو دیرش «۱۳۱» تولې دری ماشې سو.

دصاع(کاسې) وزن اودصدقة الفطر (سرسایې)صحیح مقدار

داخومنل سوې اواتفاقي خبره ده چې دصدقة الفطر مقدارله غنموڅخه نیمه کاسه اودوربشوڅخه یوه کاسه ده اوداحنافوپه نیز د داهم معلومه ده چې دصاع (کاسې)څخه عراقي صاع مرادده اوعراقي یوه صاع اته رطله وي بیادصاع اورطل وزن دتولې ماشې له حسابه دمعلومو لوڅوطریقې دي.

لومړي دمثقال په ذریعه

دفقهاؤدوینا سره سم دکومو حواله چې مخکې هم تیره سوه یورطل نوي۹۰ مثقاله او۹۰ووته که په اتوکې ضرب ورکړې نواووه سوه شل مثقاله دصاع وزن شو اوذکرشوي تحقیق څخه ثابته شوه چې یومثقال دڅلورنیموماشودی نوپوره صاع (۳۲۴۰) ماشې یعني ددووسوواویاتولواونیمه صاع د(۱۳۵)تولوسره کومه چې داتیاتولودانګریزي سیرله حسابه دری سیره شپږ چټاکی یې نیمه صاع شوه پوره صاع اویونیم سیر دری چټاکی یې نیمه صاع شوه.

دوهمه طريقه ددرهم په ذريعه

ددرمختار اونوروله وينا سره سم پوره صاع ديوزروڅلويښت درهمه ده اودرهم دذکر سوي تحقيق سره سم دری ماشې يوه رتی اوپنځمه حصه درتی ده نوپوره صاع دوه سوه دروا ويا تولې سوه اونيمه صاع (۱۳۶) تولې شپږماشې سوه يعني داتياتولې دانګريزي سير له حسابه پوره صاع دری سيره شپږچټاکی يې دری تولې سوه اونيمه صاع يونيم سير دری تولې سوه په دې دواړوحسابونوکښې پرتوله صاع باندې ددريوتولواوپرنيمه صاع باندې ديوه نيمې تولې فرق راځي همدغه وجه ده چې چاددرمختارسره سم ددرهم حساب وکړ نوددووسوودرواويا تولوصاع جوړه سوه اوچاچې دوقايې دشارح صدرالشريعة سره سم په مثقال حساب ولګاوو نودوه سوه اوياتولې سوه.

دريمه طريقه دمد په ذريعه

مدبضم الميم داهم ديوې پيمانې نوم دي اودشامی اونورودوينا سره سم يوه صاع څلورمده وي بيادمد وزن دهندوستاني وزنونوله حسابه معلومولودپاره څوصورتونه دي

لومړی دهغوعلماؤاقوال چاچې مدپه غنمواونورو ډک کړيايې وزن کړاوخپل تحقيق يې وليکی په دې کښې خويوهم هغه قول دی کوم چې دشيخ بهاؤالدين تاجرملتاني په کيسه کښې دحماديې په حواله تيرسوپه هغه کې يومد دری استاره اويوه دريمه داستار اوصاع يې ديارلس استاره اويوه دريمه داستار ددهلي په وزن بللې ده خوکله چې ددهلي داستا روزن معلوم نه دی ځکه داصورت کفايت نه کوي.

دوهم- د سيدي و سندي حكيم الامت مجدد الملت حضرت مولنا اشرف علی صاحب تهانوي قدس سره په رساله الطرائف والظرائف دوهمه حصه ص «١٢» كښې دي يو مد د حضرت مولانا محمد يعقوب صاحب نانوتوي رحمه الله د دار العلوم ديوبند لمړی صدر سره وو د كوم سند چې د حضرت زيد بن ثابت ﷺ ترمده پورې كوم چې د ه د نبي عليه السلام د مد سره نا پولو وروسته جوړ كړی وو رسيدلی دی دا حضرت مولانا تهانوي قدس سره دوه واره ډک كړی او وزن يې كړی ځكه چې نيمه صاع د دوو مدو وي نود (٨٨) تولې په سير سره يو نيم سير ١/٢ او يو نيم چټانګ ١/٢ شوی وو الطرائف ص ١٢-]

په دې حساب سره د پوره صاع وزن دوه سوه اتيا ٢٨٠ تولې شپږ ماشې او د نيمې صاع وزن يو سل څلويښت تولې دری ماشې كيږي.

او علامه شامي رحمه الله بيان كړی دی چې يو مد د دوو سوو شپيته درهمو برابر وي او د دوو سوو شپيتو درهمو وزن د ذكر سوي تحقيق سره سم اته سوه نولس ماشې (٨١٩) يعني اته شپيته تولې دری ماشې وي او كله چې پوره صاع د څلورو مدو ده نو دې ته په څلورو كښې په ضرب. وركولو سره پوره دوه سوه درواويا تولې د صاع وزن راځي او نيمه صاع يو سل شپږ ديرش (١٣٦) تولې شپږ ماشې راځي دا بعينه هم هغه حساب دي كوم چې پورته د درهم په ذريعه وسو.

څلورمه طريقه د استار په ذريعه

ددې په اړه د شامي په حواله تير سو چې يو مد يا يو من يا دوه رطله (ځكه چې د دريو شيانو وزن يو دی) د څلويښتو استارو برابر دي

اويو استار د شپږ نيمو درهمو يا دڅلور نيمو مثقالو برابروي اوس که په درهم سره د استار حساب ولګول سي اوبيا په دې سره د مد او نورو ،نو د څلويښتو استارو دوه سوه شپيته درهمه کيږي او ددوسوو شپيتو درهمو اته شپيته تولې دری ماشې کيږی کوم چې ديو مد يا دوو رطلو وزن دی او کله چې د پوره صاع معلومولو لپاره ودې ته په څلورو کې ضرب ورکړل سونو هم هغه دوه سوه درواويا تولې حساب راغلی او که د استار حساب په مثقال سره وسي نو د څلويښتو استارو يو سل اتيا (١٨٠) مثقاله سو د کوموچې اته سوه لس(٨١٠) ماشې يعني اووه شپيته نيمې تولې سوې د دې د پوره صاع جوړولو لپاره په څلورو کښې مې ضرب ورکړنو دوه سوه اويا تولې (٢٧٠) سوې دا بعينه هم هغه حساب دی کوم چې تر ټولو مخکې د مثقال په ذريعه بيان سو.

لنډه دا چې صاع د هندي وزنونو ماشې تولې پر طرف د بدلولو لپاره چې کومې څلور طريقې لوړې بيان سوې د هغه ټولو نتيجه دا ده چې کوم حساب کښې چې په مثقال حساب وسو نو وده سوه اويا تولې صاع راځي او په کوم ځای کښې چې په درهم حساب وسو نوددو سوو درو اويا تولو راځي دفقهاؤ په ذکر سويو وېنا وو کښې په الون بدلون سره هغه دوه صورتونه راوزي په کومو کښې چې په پوره صاع باندې صرف د دريو تولو او پر نيمه صاع باندې ديوه نيمې تولې فرق راځي ،يو اځې هغه حساب کوم چې دطرائف په حواله ددوومدو دوزن وليکل سو دهغه ،څخه ددوه سوه اتيا تولو (٢٨٠) او شپږ ماشو صاع معلوميږي په کوم کښې چې دلس نيمو تولو پر پوره صاع باندې

اودپنځ نیموتولوپرنیمه صاع فرق راځي په دې ډول دری حسابونه پرلږفرق حاصل شول.
لومړي : دمثقال په ذريعه پوره صاع دوه سوه اویاتولې (۲۷۰) نیمه صاع یو سل پنځه دیرش (۱۳۵) تولې.
دوهم: ددرهم په ذريعه پوره صاع دوه سوه درواویا (۲۷۳) تولې نیمه صاع یو سل شپږدیرش (۱۳۶) تولې شپږماشې.
دريم : دمولانامحمد یعقوب دمد په ذريعه پوره صاع دوه سوه اتیا تولې شپږماشې اونیمه صاع یو سل څلویښت تولې دری ماشې.
په دې کې چې هره یوه اختیارکړې صدقةالفطر (سرسایه) اداکیږي خو کله چې په آخرني حساب کې زیاتوب دی ځکه دهغه په اندازه اداکولو کې زیات احتیاط دی او کله چې دتولې ماشې په حساب دصاع اونیمې صاع وزن معلوم سو نودخپلو خپلوښارونو دسیراو چټانک حساب لګول آسان سوخو کله چې په عامه توګه داتیاتولوانګریزي سیررواج مندلی دی اوزمونږ په وطنو کې عموما صدقة الفطر (سرساپې) په غنمواداکیږي ځکه ددې حساب په صراحت سره لیکل مناسب دي.
په غنموسره دسرساپې واجب مقدار نیمه کاسه (صاع) ده اونیمه صاع په لومړي حساب داتیاتولې په سیر یونیم سیر دری چټانکه سوه اودوهم حساب یونیم سیر دری چټاکي یې یوه نیمه توله سوه اوپه دريم حساب پاوکم دوه سیره دری ماشه سوه په کوم کې چې زیات ترزیات دپنځوتولوزیاتوب دی ځکه احتیاط په دې کښې دی چې

داتیا تولو په سیر پاو کم دوه سیره غنم دیو کس په سرسایه کې ورکول سي.

خبر تیا: مولانالکنوي چې کوم وزن دصاع یو سیرپنځلس تولې بللی دی ترکومه چې احقر تحقیق کړی دی هغه په هیڅ حساب اووجه نه صحیح کیږي داهم امکان لري چې مولانادې دنوروأئموو سره سم دعراقي صاع پرځای حجازي صاع خپله کړېې وي کومه چې داتوپرځای دپنځورطلوځخه څه زیاته وي خوجمهوراحنافوچې کله عراقي صاع په دې معاملاتوکې خپله کړېې ده نوځکه مونږ حسا ب دهم هغه ولګاوه والله اعلم محمد شفیع رحمة الله علیه

داغلطي هم هغه معلومیږي کومه چې ددرهم دوزن په تحقیق کې بیان سوه چې یواځې یوه رتی داوربشي سره وتلل سوه په دې کې خفیف اولږفرق محسوسه نه سو بیادځلوروربشویې رتی وبلله خالي دحساب په ذریعه یې ترصاع ورسوله که اویاوربشې یې یووارو‌زن کړې وای نوداغلطي به نه راتلله والله سبحانه وتعالي اعلم .

اصل مقصد ددې لیک هم دومره ووچې دسروزروسپینوزرودزکوات دنصاب اودصدقة الفطر دمقدار تحقیق وسي خوکله چې ددرهم اومثقال دوزن تحقیق وسو اوپه عامه توګه چې کوم وزنونه دفقهې په کتابونوکې ذکرکیږی هغه هم ددرهم اومثقال وطرف ته ځي ځکه مناسب مې داوګڼل چې څومره لفظونه دفقهې په کتابونوکښې دوزنونوپه اړه استعمال سوي دي دهغوي تولووزنونه دتولې اوماشې په حساب ولیکل سي دپاره ددې چې دفقهاؤ په مرادځان پوه

كولو كښې درواجي وزن سره سم څه مشكلات نه وي ، ځكه داټوله ديوې نقشې په صورت كې ليكل سوي دي والله الموفق والمعين.

درواجي وزنونو سره سمه نقشه

فقهي وزنونه	هندي وزنونه	كيفيت
طسوج	تقريبا پاوكم رتى	اصل مقصددای چې طسوج ددوو وربشو وي اويوه رتى له دوو اوربشوڅخه كمه ده بحرالجواهر
قيراط	تقريبا پاوكم دوې رتى	دفقهاؤدڅرګندونوسره سم يوقيراط ی پنځه اوربشې او۱۴ قيراطه يودرهم وي درهم دپنځه ويشتو رتيودی په دې حساب سره قيراط ۱/۴ پنځه رتى سو.
دانق يادانګ	تقريبا اووه رتى	
درهم	دری ماشې يوه رتى اوپنځمه درتى	اصل دادی چې دانق ۴ قيراطه دی كمافی بحرالجواهر اويوقيراط ۱/۴ رتى نوڅلورقيراطه ۱/۲ رتى.
مثقال	څلورماشې څلور رتى	
رطل	څلورديرش تولې يوه نيمه ماشه	دفقهاؤدڅرګندونې سره سم اوياوربشې ددرهم وزن دی په ماشه سره وزن كړل سو نوهمدغه وزن راځي.
مد	اته شپېته تولې دری ماشې	
من	همداډول لكه مد	دفقهاؤ دتصريح سره سم دمثقال وزن ۱۰۰ وربشې دئ زمونږ په هم دغه راځي.
استار-	ددرهم په حساب يوه توله ۸ ماشې تقريبا پاوكم څلوررتى دمثقال په حساب يوه توله ۸ ماشه ۲ رتى	دشامي اودنورو دڅرګندونې سره سم درطل وزن ۱۳۰ درهمه دی دكوم وزن چې دتولې له حسابه همدغه راوزي.
اوقيه	لس نيمې تولې	دشامي اودنورو دصراحت سره سم دمد وزن ۲۶۰ درهمه دی چې وزن يې دتولې په حساب همدغه دی.
صاع	دمثقال په حساب ۲۷۳ تولې دمثقال په حساب ۲۷۰ تولې	من همداډول لكه مد.
نصف صاع	دمثقال په حساب ۱۳۵ تولې ددرهم په حساب ۱۳۲ تولې ۲ ماشې	-دشامي دڅرګندونې سره سم يواستار شپږنيم درهمه دی اوددې وزن دشامي دوينا سره سم يواستار څلورنيم مثقاله وي دكوم وزن چې يوه توله ۸ ماشې دوې رتى دئ.

		دشامي اونوروده صراحت سره سم دمد وزن ۲۲۰ درهمه دی چې وزن يې دتولې په حساب همدغه راوزي. دفقهاؤدصراحت سره سم په درهم داوقيې وزن ۴۰ درهمه دی چې هندی وزن يې همدغه رازوي. دصاع اونصف صاع تفصيل په اصل رساله کښې تيرشوی ده
وسق	دمثقال په حساب ۵ منه دوه نيم سيره د۸۰ تولې په سير سره ددرهم په حساب ۵ منه پاوکم پنځه سيره د۸۰ تولې دسيرله حسابه	دصاع کوم وزن چې پورته بيان شو په هغه حساب لګول سوی دی ولې چې دفقهاؤدويناسره سم يووسق ۶۰ صاع وي

خاتمه: دارساله په ۵ دذيقعده ۱۳۷۱ هج کې په تهانه بهون کښې شروع سوې وه اوپه ۷ دذيقعدې دهغه ځای نه راواپس سوم رساله په مابينځ کې پاته سوه خواتفاقا پر۱۱ دذيقعدې دمضفر نګرپه کلي شاملي په کښې داشرفيه مدرسې وجلسې ته حاضرسوم اودلته مې ځه وخت ترلاسه کړنودالله ﷻ په مرسته رساله پای ته ورسيده الله ﷻ تعالى دې مفيده نافع اودشبهاتو دپاره دافع وګرځوي اللهم آمين وقدتم بعدالسبت لاثنى عشرخلت من ذيقعده ۱۳۷۱ اوپه شعبان ۱۳۷۹ هج نظرثانى اوځه زياتوب وسو.

والحمدلله الذى بعزته وجلاله تتم الصالحات وآخردعوانا ان الحمد لله رب العالمين.

العبدالضعيف محمد شفيع الديوبندي عفى الله عنه خادم دارالفتيا بدارالعلوم الديوبنديه سابقا.

ضميمه

مساحات الشرعية درپيمانهائي هنديه

ذراع - په عربوکې دوه قسمه ذراع استعماليدل يوذراع کرباس (دکپړوناپولوګز)دوهم ذراع مساحت (دمځکې اونورودناپولوګز) ذراع مساحت دقاضي خان اونورودوينا سره سم اوه مټه دی چې په هرمټ کښې بټه ګوته ولاړه وي کذافی البحرالرائق ص ۱۸ بحث المياه اودامټ چې بټه ګوته يې ولاړه وی دنن صبا په حسا ب شپږ انچه کيږي ځکه چې ذاسې دوه مټه ته فټ ويل کيږي دکوم څخه چې معلومه سوه چې ذراع مساحت دري نيم فټه يا(۴۲) انچه وي کوم چې ترانګريزي ګز شپږ انچه زيات دی خودفقهاؤ په کلام کې عموما چې کوم ځای دذراع لفظ استعمال سوی دی ذراع مساحت ورڅخه مراد نه وي بلکه ذراع کرباس مرادوي اوپه ځيني ځايونوکې دفقهاؤاختلاف هم راغلی دی چې بعضو ذراع کرباس مراداخيستی دی اوبعضوذراع مساحت لکه چې دماء (اوبو) کثير په بحث کښې اولس په لسه په تعينولو کښې قاضی خان ذراع مساحت اختيارکړي دی خودجمهوروفقهاؤ لکه صاحب دهدايې اوعامومتونو اوشروحاتو په دې ځاي کې هُم ذراع کرباس صحيح بللی دی اوذراع کرباس هم په دوه قسمه مشهوردی په متقدمينو کې د (۳۲) ګوتوذراع مشهوردی اوپه متاخرينوکښې د(۲۴) ګوتودګوتوڅخه مراددادي چې څلورګوتې سره يوځای ونيسې اوبټه ګوته ورسره ملګرې نکړې بيا څلور ددوی په برابر کښې اوبيا همداسې څلور تردې چې « ۳۲» يا« ۲۴ » پوره سي اوکله چې يومټ هم دڅلوررګوتو

وي نو ځکه د متقدمینو ذراع اته متهٔ او د متاخرینو دا شپږ متهٔ جوړېږي
دمذهب په عاموکتابونو، متونو، شروحاتو، اوفتاوی ووکښې
دمتاخرینو ذراع مستعمل دی پرهمدې دشرعي تول حسابونه قائم
کړل سوي دي یعني د شپږو متهو یا «۲۴» ګوتو یو ذراع.
وذالک لمافی تیمم الهندیه بعدقوله اقرب الاقوال کل ذراع اربع
وعشرون اصبعا وعرض کل اصبع ست حبات شعیر ملصقة ظهرالبطن
هکذا فی التبیین. (عالمګیری مصری ج:۱ ص:۲۸)
وفی میاه البحرالرائق اختلف المشائخ فی الذراع علی ثلثة اقوال ففی
التجنیس المختار ذراع الکرباس واختلف فیه ففی کثیر من الکتب
انه ست قبضات لیس فوق کل قبضة اصبع قائمة فهواربع وعشرون
اصبعا بعد دحروف. لااله الا الله محمدرسول الله والمراد بالاصبع
القائمة ارتفاع الابهام کمافی غایة البیان بحر ج۱ ص ۸۰) ومثله فی
تیمم البحر عن الینابیع وذکر انه ذراع العامة وفی حاشیة البحر
للشامی هناک انه هوالمعول وعزاه الی الرملی صاحب الخیریة
(بحرص ۱۴۷ ج۱) دلوړ عبارت څخه ښکاره سوه چې دفقهاؤ رحمه
الله په نیز د معتمد قول دادی چې داوبو دمساحت په اړه دلس په لسو
مسئله کښې ذراع کرباس معتبردی اودي صحیح اوراجح پیمائش (
۲۴) ګوتې یا (۶) متهٔ دی اودابعینه هم هغه مقداردی وکوم ته چې
زمونږ په عرف کښې یولاس ویل کیږي ځکه په مغرب کښې (په کوم
کې چې خاص دفقهې لغت جمع کړل سوي دي داسې وايي: والذراع
من المرفق الی الاصابع ثم سمی بها الخشبة اللتي یرزع بها (الی قوله
) والذراع المکسرة ست قبضات وهی ذراع العامة وانماوصف

بذالک لانهانقصت عن ذراع الملک بقبضة وهو بعض الاکاسرة ولاة فرس وکانت ذراعه سبع قبضات (مغرب ص۱۹۱ ج۱) دمغرب له دې تحرير چې بحرالرائق په بحث المياه کې چې کوم قول دولوالجې څخه رانقل کړی دی چې داوومتويوذراع وي دادهغه پخواني ذراع پيمايش دی کوم چې داخرني کسری دفارس دباچا ذراع دی اوپه اسلام کې چې په عامه توګه کوم ذراع رواج سو هغه يومټ کم يعنی (۲) مټه يا(۲۴) ګوتې ذراع دی اوهمدغه معتبراوسنددرالودونکی دی اودعربواودفقهاؤ دسادګی هم همدغه تقاضاده چې ددوی په کلام کې دذراع څخه همدغه ذراع مراددی ځکه چې دادطبعې ذراع (يعني يولاس) صحيح مقداردی اوداذراع په انګريزي ګز نيم يعنی يونيم فټ يا(۱۸) انچه دی لکه چې په عامه توګه دچکرورتي په علم حساب کښې ددې صراحت په لاندې الفاظووجودلري (۹) انچه ،يوه لويشت دوې لويشتې (۱۸) انچه يايولاس دوه لاسه يوګز ،يوګز (۳) فټه يا (۳۶) انچه.

لنډه داچې داوسني رواجی انګريزي ګزپه اعتبار ذراع مساحت يوګزاو (۲) انچه يادری نيم فټه يادوځلويښت انچه دی ذراع کرباس نيم ګز يايونيم فوټ يا(۱۸)انچه دی اودالوړه معلومه سوه چې داوبوپه مسئلوکې ذراع کرباس معتبردی همداسې دلمونځ ګزاره ومخ ته ستره (لکړه) کومه چې دفقهاؤدويناسره سمه يوه ذراع ضروري ده په دې کښې هم ذراع کرباس معتبره ده.

ميل : ميل په اصل لغت عربي کې منتهاې بصر (دليدواخرحد)ته ويل کيږي کمافي الصحاح والمغرب وغيرهما اوپه اصطلاح دفقهاؤ

کې دفرسخ ویوې دریمې ته میل ویل کیږي بیاددې په مقدارکې دفقهاؤمختلف قولونه دي.

لومړی : څلورزره ګزه اوهمدغه قول معتمد اومختاردی اوپه عامو شروحاتو کې اوفتاوای وو کښې همداا ختیارکړل سوی دی کماسیاتي نقله.

دوهم: دری زره ګزه داقول دمتقدمینو دی په حقیقت کښې ددې مدار پردې دی چې دمتقدمینو ګزدمتاخرینوترګز دغومره غټ دی چې ددوی څلورزره ګزه دمتقدمینو دریوزروګزو برابردي لکه چې دذراع دلفظ په تحقیق کښې چې تیر سوچې دمتقدمینو ذراع(۳۲) ګوتې ده اودمتاخرینودا(۲۴) ګوتي دکوموپه حساب کولو چې ښکاریږي چې کوم مسافت د(۲۴) ګوتودذراع څخه څلورزره ذراع جوړیږي هغه د(۳۲) ګوتوپه ذراع دری زره جوړیږي.

دریم قول:.هغه دي کوم چې صاحب بحرالرائق دینابیع په حواله رانقل کړی دی چې یومیل دڅلورزرو ګامو(قدمو) دی اویوګام دیونیم ذراع (عام ذراع) دکوم په حساب چې یومیل شپږزره ذراع جوړیږي خوعلامه شامي رحمه الله دبحر په حاشیه کې پرهمدې ځای باندې درملی ، زیلعي اونورو په حواله داقول ردکړي دی چې معتمد علیه هم هغه قول دی کوم چې زیلعي اونورونقل کړی دی یعني څلورزره ګزه.

څلورم قول : هم هغه دي کوم چې صدرالشریعة دوقایې شارح په لفظ دقیل بیان کړی دی اومحشینو دابن شجاع وطرف ته ددې نسبت کړی دی هغه داچې میل له دری نیم زره زیات ترڅلوروزروګزو پورې

هم يو ميل بلل كيږي په لږكموالي اوزياتوب په احكامو كې فرق نه
راځي ياد اشاره دمتاخرينو واختلاف ته ده خوبياهم صدرالشريعة
پخپله په لفظ د قيل سره دا قول ذكر كړى دى دا يې ضعيف وباله.
لنډه دا چې دا ثابته سوه چې راجح مختار اومعتمد قول همدغه دى
چې ميل دڅلورزرو ګزودى په كوم كې چې دمتاخرينو دګزاعتبار چې
څلورويشت ګوتې دى كړى دى كوم چې په انګريزي ګز نيم يعني
«۱۸» انچه دي (وهذه بعض تصريحات الفقهاء على اختياره) فى تيمم
الهنديه اقرب الاقوال ان الميل وهو ثلث الفرسخ اربعة الاف ذراع كل
ذراع اربعة وعشرون اصبعا اه عالمګيري ص ۲۸ ج ۱ طبع مصر.
وفى منحة الخالق على البحر الرائق للشامى عن الزيلعى والجوهرة ان
قد رالميل اربعة الاف ذراع الى اخره) ورايت في القلادة الجوهرية
ماصورته قال صاحبنا ابو العباس احمدشهاب الدين بن الهائم رحمه
الله واليه يرجع فى هذا الباب البريد اربعة فراسخ والفراسخ ثلثة اميال
والميل الف باع والباع اربعة اذرع والذراع اربعة وعشرون اصبعا
والاصبع ست شعيرات موضوعة بالعرض والشعير ست شعيرات
بشعرالبرزون اه كلامه وهوموافق لمافى الزيلعى وقد نظم ذالک
بعضهم فقال

ان البريد من الفراسخ اربع : ولفرسخ فثلاث اميال ضعوا
والميل الف اي من الباعات قل : والباع اربع اذرع تستتبع
ثم الذراع من الاصابع اربع من بعدها العشرون ثم الاصبع
ست شعيراة فظهر شعيرة منها الى بطن الاخرا توضع
ثم الشعيرة ست شعرات فقل من شعربغل ليس فيها مدفع

اقول فتحصل من هذا كله ان مانقله الزيلعي هوالمعول انتهي كلام الرملی ملخصا (حاشية البحر الرائق ص ۱۴۷ ج۱)
وذکرهذاکله مولاناعبدالحي الكهنوى فی السعاية مفصلا واختارماذكرناه فی تحقیق المیل (سعایة ص۴۹۲)اوکله چې داثابته سوه چې دمیل په اړه دفقهاؤ کراومختارقول دادی چې د«۲۴ » ګوتو په ګزسره څلورزره ګزیومیل دی نوپه انګریزي ګزسره دوه زره ګزه یوشرعي میل سو ځکه چې د(۲۴) ګوتوذراع یولاس یعني یونیم فټ یااتلس انچه دی لکه چې دذراع په تحقیق کښې د علم حساب په حواله تیرسو.

په انګریزي میل اوشرعي میل کښې فرق

دعلم حساب دصراحت سره سم انګریزي میل اته فرلانګه وي اوهرفرلانګ دوه سوه شل ګزه نوانګریزي میل اوولس سوه شپیته «۱۷۶۰ » ګزه سو نومعلومه سوه چې شرعی میل ترانګریزي میل دوه سوه څلویښت ګزه غټ دی .

فرسخ : بفتح فا وسکون را وفتح سین ددریومیل دمسافت نوم دي لکه چې په عبارت کښې تیرسو .

برید:وڅلورفرسخ ته یا ودولس میله مسافت ته ویل کیږي اوپه نهایه کښې ابن اثیر فرمایلي دي چې دالفظ په اصل کښې دفارسي بریده دم څخه مختصر دی ځکه چې دخط اولیک وړلولپاره لکی پرې سوي غاتراستعمالیدل تراختصار وروسته ورته برید وایي بیاددې وسوارته بریدوویل سوتردې چې دیوسوار دټاکلي سوي مسافت نوم هم بریدسو .

دسفردمسافت تحقيق

دشرعي سفر دمسافت دتعين په اړه دصحابه وتابعينو اومجتهدينو ائموؤ مذهبونه مختلف دي دکوموتفصيل چې په عمدة القاري شرح بخاري اونورو کښې بيان سوی دی داماماعظم ابوحنيفة هم په دې اړه روايتونه مختلف دي خوراجح اوصحيح مذهب دامام اعظم رحمه الله تعالی عنه دادی چې کوم خاص مقدار تحديداوتعين په ميلونو اونوروونه کړل سي بلکه په دری ورځې درې شپې کښې چې څومره مزل انسان پيدل (پرپښو) په اسانتيا سره وکړی يايې پروښ په آساني سره وکړي داسې مقدار دشرعي سفرمسافت ده اودابن همام دصراحت سره سم دغوايانو(سانډاګانو) دسواری همدغه حکم دی اودبحرالرائق دصراحت سره سم داوښ څخه هم دکاروان اوقافلې اوښ مراددي تيزه اوچابکه اوښه مرادنده.

اوددريوورځودريوشپومطلب دانه دی چې شپه اوورځ روان وي بلکه مراد يواځې دورځې تګ دی اوهمدغه ټوله ورځ نه بلکه څومره چې عادتا دميانه قوت انسان تګ کولای شي کوم چې بعضې فقهاؤ له سهاره دلمر ترسر اوښتو (زوال آفتاب) پورې مقررکړي دي (کماذکره الشامی ومثله فی البحر ص ۱۴۰ج ۱) اوحضرت امام ابوحنيفة رحمه الله څخه يوروايت داهم دی چې ده دشرعی سفر مسافت دری منزله بللی دی صاحب دهدايې ددې ترنقل کولووروسته فرمايې چې ددې روايت حاصل هم تقريبا همغه دی کوم چې لوړذکر سويعنی ددريوورځو مسافت تردې وروسته فرمايې ولامعتبر بالفراسخ هوالصحيح

يعني دفرسخ اودميلونودتعين هيڅ اعتبار نسته صحيح مذهب همدغه دی ځکه په عامومتونواوشروحاتوکښې دجمهورومشائخ حنفيو مختار همدغه دی چې دميلونوتعين ونه شي د فتح القدير، عمدة القاري ، البحرالرائق ، شامی ، درمختار ، اونوروټولوپردې اتفاق دی ددې په خلاف بعض فقهاؤ دفراسخو ياميلونوتعين هم کړی دی.

دحضرت امام مالک رحمه الله مذهب دی چې تر«۴۸» ميله په کم کښې دې قصرنه کوي اوهمدغه دامام احمد رحمه الله مذهب دی اودامام شافعي رحمه الله څخه هم يوروايت داسې دی (عمدة القاري ص۵۳۱ ج۳) اوپه حنفي مشائخوکې بعضو يوويشت «۲۱» فرسخه دکوموچې دروشپيته ميله جوړيږي ، بعضو اتلس فرسخه دکوموچې څلورپنځوس ميله جوړيږی اوبعضوپنځلس فرسخه دکوموچې پنځه څلويښت ميله جوړيږي مسافت دقصر بللی دی.

په عمدة القاري کښې داتلسو «۱۸» فرسخه پرقول فتوی رانقل کړې ده اوپه البحرالرائق کښې هم دنهايه په حواله پرهمدې قول فتوی رانقل کړې ده اوشامي اوبحر دمجتبی په حواله دخوارزم دزياتره ائمؤفتوی دپنځلس فرسخو پرروايت ذکرکړيې ده (بحرص ۱۴۰ ج۲) اوشيخ محقق ابن همام دهدايې په شرح کې دميلونو دتعين داعتبار نه کولووجه داييان کړې ده چې ددريوورځودريوشپومسافت کوم چې اصل مذهب دی هغه دلاروپه بدلون سره بدليږي ځکه چې پرصفا لاره که انسان په يوه ورځ کښې شپاړس ميله سفرکولای شي نوپرډبرينه اوګرانه لاره په ډيره مشکل سره دوولس ميله مزل کولای شي اوپه

غرني لاروکې لس میله مزل کول هم ګران دي ځکه دمیلونو تعین کول مناسب نه دي بلکه چې څنګه لاروی دهغه په اندازه چې څومره میلونه په آسانتیا سره په دری ورځې کښې پیاده پرې کولای سي هم هغه مسافت دقصر دی (فتح القدیر ص ۳۹۴ ج ۱) خود هندوستان په عامو وطنونو کښې چې کله تقریبا لارې ټولې برابرې دي غرني یاتکلیف جنې نه دي ، ځکه دهندوستان علماؤ په میلونوسره تعین وکړ بیا چې کومو کسانوپه میلونو یافرسخونودقصر تعین کړی دی په هغوي کې مختلف قولونه دي کوم چې لوړبیان کړل سول.

ځکه دهندوستان محققین علماؤ «۴۸» میله انګریزي دقصر مسافت بللي دی کوم قولونه چې وذکرسویو فقهاؤ ته نژدې نژدې دي او اصل مداردې پرهمدغه دی چې دومره مسافت په دری ورځې دری شپې کښې په آسانتیا سره مسافرپرپښو (پیاده) پرې کولای سي اودحنفي فقهاؤ دمفتي به اقوالو څخه چې کومه فتوی دخوارزم دائموو دپنځلسوفرسخوړانقل کړل سوې ده هغه تقریبا ددې سره بالکل سمه ده ځکه د «۱۵» فرسخه « ۴۵ » شرعي میله کیږي اوشرعی میل له «۴۸ » انګریزي میل څخه دوه سوه څلویښت ګزه غټ دی نو« ۴۵ » شرعی میل له « ۴۸ » انګریزی میل څخه څه زیات فرق نه لري اود «۴۸ پر تعین باندې په یوه حدیث هم دلیل نیول سوی د ی کوم چې دارالقطني دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت کړی دی چې نبی علیه السلام وفرمایل: یااهل مکة لاتقصروالصلاة فی ادنی من اربعة برد من مکة الی عسفان عمدة القاري ص ۵۳۱ ج ۳) وذکره ابن اثیر فی النهایة.

ای دمکي اوسیدونکو ترڅلوربریده په کم کښې دلمانځه قصر مه کوئ لکه چې له مکې څخه ترعسفان پورې ،ددې روایت په سند کې که څه هم یوراوي ضعیف دی کماذکره العینی خوبیاهم کله چې داصل مذهب مدار ددريو ورځو پرمسافت ده دایواځې دتائید لپاره پیش کړل سو اوپه تائید کښې ضعیف حدیث هم کفایت کوي ځکه په دلیل ښولو کښې څه تاوان نسته امام العلماء حضرت مولانا رشیداحمد صاحب گنگوهی قدس سره دیوې استفتاء په جواب کې ودې طرف ته اشاره کړې ده کومه چې بعینه داسې ده .

سوال : دصحیح احادیثو سره سم په څومره مسافت په سفر کښې قصر لمونځ کول پکاردي ؟

جواب : څلوربریده کوم چې شپاړس میله دری منزلونه جوړیږي دموطاء مالک په حدیث ثابت دی خو دمیل مقدار مختلف دی لهذا دری منزلونه دټولواقوالولپاره جامع دي فقط والله تعالی اعلم رشیداحمدعفی عنه.

سوال: دفرسخ اومیل تحدید اعتبارلري ؟

الجواب : فرسخ ددريو میلواومیل څلورزره گامه (قدمه) لیکی خوداټول تقریبی شیان دي اصل میل دهغه مسافت نوم دی چې نظر میل ورته وکړي اوداهم مختلف دی دوخت ، ځای ، اولیدونکي په اعتبار والله اعلم رشیداحمد عفی عنه (فتاوی رشیدیه لومړي حصه ص ۲۵) لنډه داچې دمختار مذهب سره سم دقصر مسافت دری منزله یا (۴۸) انگریزي میله ده۔ والله سبحانه وتعالی اعلم.

ددې تولې ضميمې لنډيز دنقشې په صورت داسې دی

شرعي پيمانې نوم	هندي پيمانه	كيفيت
شرعي ذراع	يونيم فټ يااتلس انچه	په حقيقت كې ۲۴ گوتې يايولاس دی چې پيمائش يې يې يونيم فټ جوړيږي
شرعي ميل	يوانگريزی ميل او «۲۴۰» گزه	كمامر تحقيقه
بريد	(۱۲) شرعي ميله دي	
فرسخ	«۳» انگريزي ميله او «۷۲۰» گزه يا «۳» شرعي ميله	كمامر تحقيقه

واخردعوانا ان الحمد لله رب العالمين وبه فی الاول والاخر نستعين وهو نعم الوكيل ونعم المعين.

بنده محمد شفيع عفی عنه [۷] ذيقعده ۱۳۷۱ هج

دعلماؤكرامو تصديقات

تقريظ اوتصديق دسيدي وسندي حضرت حكيم الامت مجددالملة تهانوي قدس سره

بعدالحمد والصلاة احقراشرف علي عفي عنه رساله شرعی وزنونه توله وكتله دكمزوري اووخت دلږوالي له وجهې دماخذ اومباني سره پوره تطبيق وركولو څخه خومعذوره دی امادعربي شاعراوپارسي عارف په وينا

سبوح لهامنهاعليها شواهد : آفتاب امد دليل آفتاب الخ.

Scanned with CamScanner

پخپله رساله دخپل صحيح والی اودصداقت دګواهي ضامنه ده دكومې دمطالعې پروخت چې بې اختياره ددې لقب ارجح الاقاويل في اصح الموازين والمكائيل پرزړه پورې راغلی له الله تعالی څخه ددې دقبول والي اونافع والي دعاغواړم فقط وهذا للثاني من ذي الحجة «١٣٦١ هج» فی الخانقاه الامداديه من تهانه بهون صينت ابدالزمن من الشروروالفتن.

دشيخ التفسير والحديث حضرة مولاناشبير احمد صاحب عثماني مدظلهم تقريظ اوتصديق

دمحترم ورورمولانا مفتي محمدشفيع صاحب دارساله ماوويله ډيره زياته برخه اوفائده مې څنې حاصله کړه ، دومره زيات تحقيق اوكوښښ بس دده برخه وه الله تعالی دې نيكه بدله وركړي زه ددې مضمون سره اتفاق لرم شبير احمدعثماني «٢٧ ذی الحجة «١٣٦١هج»

دمظاهرعلوم سهارنپوردعلماؤ تصديقونه

الحمدلله وحده والصلاة والسلام علی من لانبی بعده زه هم دارجح الاقاويل درسالې له مطالعې څخه مشرفه سوم ، دمفتی صاحب تحقيق زماپه نيزد صحيح اودهندوستان دزياتره علماؤ دتصريحاتو سره سم دی په ١٣٥٢ هج كښې له حيدرابادكن څخه يوچاحيدرابادكن دمفتي اوددارالعلوم ديوبنددمفتي دفتاوی خلاصه اولنډيزدصاع دتحقيق په اړه رايږلی وو اوزمونږ څخه يې درايې غوښتنه کړې وه،مونږپه هغه وخت هم ددارالعلوم ديوبنددمفتي تصويب اوحيدرابادمفتي څخه اختلاف كړی وو اوس هم زمونږ په نيزد په رساله «ارجح الاقاويل» دصاع اونصاب په

اړه چې کوم تحقیق سوی دی هغه صحیح دی اومولانا عبدالحي صاحب رحمة الله علیه تحقیق زمونږ په نیز د صحیح نه دی،ځکه دحیدراباد علماؤ لره پکاردي چې پردې مسئله بیافکروکړي اوخپل تحقیقات خپاره کړي (سعیداحمد غفرله خادم دارالافتاء مظاهرعلوم سهارنپور «۴» محرم الحرام «۱۳۷۲هج».

بنده ضعیف عبداللطیف ناظم اوخادم دمدرسه مظاهرالعلوم سهارنپور :دحضرت مولانامفتي محمدشفیع صاحب دیوبندي رایه اوتحقیق صحیح اوراجح بولي الله تعالی دې ومفتي صاحب ته نیکه بدله ورکړي «۴» صفر «۱۳۷۲ هج» حامد ومصلیا ومسلما.

امابعد احقر چې کله رساله «ارجح الاقاویل في اصح الموازین والمکائیل مؤلفه محترم حضرت مولانا مفتي محمدشفیع صاحب ولیده ډیر زیات وړته خوشحاله سو حضرت مؤلف دام مجده په تحقیق،اوپلټنه کوښښ اومحنت سره ددې رسالې په تصنیف دمسلمانانوشدید ضرورت پوره کړ فجزاه الله تعالی عنی وعن سائرالمستفیدین احسن الجزاء الله تعالی دې دغه کوښښ اومحنت قبول کړي بنده عبدالرحمن غفرله دمظاهرعلوم سهارنپوردمدرسې خادم «۳» محرم «۱۳۷۲هج».

له دارالمصنفین اعظم ګړه ځخه دحضرت مولاناسید سلیمان صاحب ندوی تقریظاوتصدیق

دشرعي وزنونورساله مې ترنظر تیره سوه ، ډیرضروري تحقیق یې کړی دی که ستاسو اجازه وي نوددې تلخیص به په معارف کښې

خپور کړم زما خپله په دې کښې ډير شک وو ځکه چې فطرة زه دحساب سره څه تړون نلرم ، ځکه کله به مې دلته او کله هلته ميلان وو ، د مولانا سجاد صاحب مرحوم هم تحقيق له مولانا عبدالحی رحمة الله فرنگي محلی څخه بيل او مختلف وو الله تعالی دې تاسو ته نيکه بدله در کړي والسلام سيد سليمان «۲۴» فروري «۱۹۴۳ هج».

دحضرت مولانا ظفر احمد صاحب تهانوي دامت مكارمهم تقريظ

الحمد لله وسلام على عباده الذين اصطفى وبعد فقد تشرفت بمطالعة الرسالة المباركة الملقبة بارجح الاقاويل فى اصح الموازين والمكائيل لمحبى وحبيبي الفاضل المقدام الفقيه العلام مولانا محمد شفيع الديوبندي المفتي باجل مدارس الاسلام فسررت بها مسرة من رأى هلال العيد ووجدت بها وجد من ادرك الفقيد فلله دره من محقق قد اتى بمالا يحتمل المزيد من تحقيق انيق ومن مصيب قد وفق لاستخراج الدرر من لجة بحر عميق لازال مشمولا برعاية الحق واعانة التوفيق والله خيرموفق له ومعين وصلى الله على سيد المرسلين خاتم النبيين سيدنا النبى محمد وعلى اله واصحابه اجمعين.

وانا الفقير الى الله الصمد عبده المذنب ظفر احمد العثماني التهانوي عفى عنه ربه القوى «۳» محرم «۱۳۶۲ هج».

مکتوب جناب عبدالرشید صاحب مدرس مدرسه الهیه بهوپال درتقریظ رساله

محترم اومکرمه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته المفتي داتم تهوک اووم اواتم نمبر راورسید په دې کتبې چې پرشرعي وزنونو کوم لاجوابه تحقیق سوی دی پردې به زه څنگه تاته دعاگانې نه کوم الله تعالی دستاپه عمر اوعلم کتبې ډیر زیات اوډیر زیات برکتونه واچوي آمین ثم آمین. زه پرمولانا فرنگي محلی مرحوم اومغفور باندې نیک گمان اوښه عقیدت لرم، څکه عقیدة مې دهغه تحقیق ارجح اواقوی بللی وو خوخدای ﷻ خبر چې ولې عمل تل دجمهورعلماؤ دفتوی اومسلک موافق وي مسئله مې همیشه دهمدغه ژاړه مسلک موافقه ښودلې ده دمرحوم اومغفور پرتحقیق مې دومره اعتماد ووچې هیڅکله مې دنور تحقیق اړتیا اوضرورت نه وو محسوس کړی اوس چې مې ستاسو داتحقیق وکوت نوسترگې مې خلاصې سوې اودالله ﷻ شکر مې اداکړ چې زه یې له یوغټې غلطي څخه ساتلي وم، اوس په دې وخت زما پرمولانا تهانوی حضرت مفتي کفایت الله صاحب مد ظلهما اوپرتاسو ډیر اعتماد اوباور دی په دوی کې ستاسوسره یوڅه بې تکلفه هم یم څکه عرض کوم چې دسید ابوالاعلی مودودي رساله حقوق الزوجین هم وگورې پرهغه هم یوه تفصیلی تبصره ولیکې، وماته دده رایه څه صحیح رامعلومیږی الله تعالی ﷻ دې ومسلمانانو ته سترگې ورکړي چې دوی دعلماؤ اخلاص اودیانت ووینې اوددې څخه سبق واخلې فقط اضعف العباد مسکین عبدالرشید عفی عنه سابق مدرس مدرسه سلیمانیه

حامدرس مدرسه الهیه بهوپال سې شنبه «۲۷» ذی الحجة «۵» جنوري «۲۴۳».

له مولانا عبد الماجد صاحب مدیر صدق لکهنو له خوا

ارجح الاقاویل فی اصح الموازین والمکائیل ازمولانا مفتی محمد شفیع صاحب دیوبندي «۲۴» مخه په خپله دمصنف له طرفه ددیوبندضلع سهارنپورله ادرسه راورسیدی دشریعت دباب الاحکام په کتاب کښې دمختلفو مقدارونو اوپیمانوحوالې راځي دمثال په ډول په زکوات کښې دسروسپینوزرو نصاب په صدقة الفطر (سرسایه کښې دصا ع (کاسې) وزن په شرعي سفر کښې مسافت اونور اوپه دې باب کښې دهند فقهاؤ اوعلماؤ په ډیر کوښښ اومحنت سره هندی وزنونه اوپیماني بیان کړي دي خوانسانی تحقیق دتسامح څخه چیرته خالی پاته کیدای شی په بعضو قولونوکښې ددوی ترمنځ اختلاف هم وي اوس مولانا محمد شفیع صاحب دیوبندي له سره دامسئله دخپل تحقیق موضوع گرځولې ده اورښتیاخبره داده چې دکوښښ اودسعې حق یې اداکړی دی دده دتحقیق پرتصدیق باندې خودحضرت مولاناتهانوی اومولاناشبیراحمد عثمانی په رنگه جید علماؤکرامو مهرونه اوټاپې وهلي سوې دي ،نورنو ترکومه چې دتدقیق او جوړوالی تعلق دی ددې اندازه خومونږ عام خلک هم کولای سو اوددې ډاډېې اختیاره له زړه وځي په رشک کولو سره حیرانیږم چې په اوس وخت کښې هم پرداسې عنوانو په داسې اندازه تحقیق کونکي سته.

درواجي وزنونو سره سمه نقشه

عربي پیمانه	برطانوي نظام	اعشاري نظام
قیراط	۸ ء۱ رتی	۷ ء ۲۱۸ ملي ګرامه
دانق یادانګ	۲ ء۷ رتی	۸ ء۸۷۴ ملی ګرامه
درهم	۲ ء۲۵ رتی	۳ء۰۶۱۸ ګرامه
مثقال یادینار	۵ ء۴ ماشې	۴ء ۳۷۴ =
بغدادي رطل	۳۴ تولې یوه نیمه ماشه	۳۴ء۳۹۸ =
مدیامن	۱۳ء۲۵ چټانګ	۷۹۲ء۰۲۸ =
اوقیه	۵ ء۱۰ تولې	۱۲۲ء ۴۷۲ =
ددرهم په حساب صاع	۲۷۳ تولې	۳ء۱۸۴۲۷۲ کیلو =
نیمه صاع	۵ ء۱۳۶ تولې	۱ء۵۹۲۱۳۶ کیلو =
دسپینو زرو نصاب	۵ ء۵۲ =	۳۶ ء۶۱۲ ګرامه
دسروزرو نصاب	۵ ء۷ =	۴۸ ء۸۷ =
دمهر لږترلږه مقدار	۵ء۳۱ ماشې سپین زر	۶۱۸ ء ۳۰ ګرامه سپین زر
فاطمي مهر	۲۵ ء۱۳۱ تولې	۱ ء ۵۳۰۹ کلوګرامه سپین زر
ددیت مقدار	۲۶۲۵ ==	۶۱۸ء۳۰ =
ذراع کرباس	۱۸ انچه یانیم ګز	۷۲ ء۴۵ سینتي متر
په میداني وطنوکې دقصر مسافت	۴۸ میله	۷۷ ء۲۴۸۵۱۲ کیلومتره

مرتب مولانا محمد اشرف قريشي د جامعه دارالعلوم کراچی اوستاد دلوی رب په فضل کتاب پای ته ورسید الله ﷻ دوکړي چې دا کتاب د ترجمه کونکي دهغه دمورا وپلاا وټولو مسلمانانو دخلاصون ذریعه وګرزي آمین دعاغوښتونکی محمدابراهیم خلیل (۲) شعبان (۱۴۲۸) هج والسلام